# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**16حمل_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


د چین د بورسیي رقابتي ازموینه د مهاجرینو چارو په وزارت کي واخیستل شوه------------------------------------1

بیش از ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود -----------------------------------------------------1

ایران څخه تر زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول------------------------2

برای صد ها خانواده درولایت پکتیکا، کمک نقدی توزیع شد ----------------------------------------------------2

بامیان ولایت کې له لسګونو تنو سره د روغتیایي کڅوړو او د کورنیو توکو مرسته وشوه ---------------------------3

د پاریس ښاروالۍ مخې ته راټول شوي کډوال د سرپناه غوښتنه کوي ---------------------------------------------4

د ایټالیا او البانیا ترمنځ تړون: د کډوالو د مرکزونو د جوړېدو کار پیل شوی ------------------------------------------6

د کرېټا په سویل کې ۲۹ مهاجر له سمندره ژغورل شوي -------------------------------------------------------7

۲۸ پناهجو در وان یخچال دار؛ حکم دستگیری قاچاقچیان در ایالت زاکسن آلمان ----------------------------------9

»زیر باران و ترپال»؛ بیش از یک صد مهاجر بی سرپناه میدان شهرداری پاریس را اشغال کردند -----------------10

پولیس فرانسه سه تن را به اتهام فروش اسناد جعلی دستگیر کرد-----------------------------------------------12

تصمیم تازه برای اخراج ۶۷هزار مهاجر افغان از پاکستان ------------------------------------------------------13


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د چین د بورسیي رقابتي ازموينه د مهاجرینو چارو په وزارت کې واخیستل شوه

د وزارت ویب سایت



**د چین د بورسیې لپاره رقابتي ازموينه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د ۲۸ تنو کارکوونکو په ګډون واخیستل شوه.**

**د وزارت د بشري سرچینو رییس مفتي مدیر ګل احمدي د دې ازموينې د څارنې پرمهال پر پوره روڼتیا ټینګار وکړ او ویې ویل، د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې وړ، با استعداده، ژمن او ریښتیني کسان د خلکو د خدمت لپاره غوره کړي، چې د دې اداري لپاره ښه لاسته راوړنه ولري.**

**د دې ازموينې له ګډون کوونکو څخه به هغه ۸ تنه چې لوړې نومرې ترلاسه کړي، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون ته ور وپېژندل شي.**

**ټاکل شوې ده چې د چین د بهرنیو مرستو او تجهیزاتو په اړه به دوه اونیز ښوونیز سیمینار ډېر ژر په چین کې جوړ شي.**

## بیش از ۱۰۰ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۱۴۸ تن مهاجر افغان به تاریخ ۱۴ حمل از خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۲۸ خانواده که شامل ۱۴۸ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت درادراه امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## ایران څخه تر زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**په ایران کې مېشت یو زرو ۷۱۹ تنه افغان مهاجرین د وري ۱۴ مه نېټه د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.**

**د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۴۹۷ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.**

**دغه راز اتو کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۳۳ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او ۳۲ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمپټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه ووېشل شول.**

**او ۱۷۰ تنه نور له روغتیایي خدمتونو برخمن شول.**

## برای صد ها خانواده درولایت پکتیکا، کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای ۸۰۰ خانواده درولایت پکتیکا کمک نقدی بتاریخ ۱۴ حمل توزیع شد.**

**برای هر خانواده که قبلاً از جانب اداره امور مهاجرین مورد شناسایی قرار گرفته بودند مبلغ یک صدو ۲۳ هزار و ۵۰ افغانی از جانب موسسه هماهنگی کمک های انسانی در ولسوالی گیان توزیع شد.**

## بامیان ولایت کې له لسګونو تنو سره د روغتیایي کڅورو او د کورنیو توکو مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په باميانو ولايت کې د وري ۱۴ مه نېټه د مهاجرينو چارو رياست له لوري پر ۵۰ حقدارو مېرمنو روغتيايي کڅوړې او د کور توکي ووېشل شول.**

**دا مېرمنې وړاندې هلته د مهاجرينو ادارې له خوا حقدارې پېژندل شوې وې او هرې ميرمنې ته د GENEVA CALL موسسې په همکارۍ روغتيايي کڅوړې او کورني توکي ورکړل شول.**

## د پاريس ښاروالۍ مخې ته راټول شوي کډوال د سرپناه غوښتنه کوي

مهاجرنيوز



له تېرې دوشنبې شپې راهيسې نږدې ۱۵۰ کسان چې په ډله کې يې زيات شمېر ښځې، ماشومان او کم عمره مهاجر هم دي د پاريس ښاروالۍ يا هوټل دو ويل مخې ته راټول شوي دي. دغه کډوال له حکومت څخه د سرپناه غوښتنه کوي .

له تېرې دوشنبې راهيسې شاوخوا ۱۵۰ کډوال د هوټل دو ويل مخې ته راټول شوي دي چې د پلازمېنې پاريس په زړه کې موقعيت لري. ياد مهاجر د سرپناه له نشتون څخه شکايت لري او «تر باران او ترپالونو لاندې» يې په دغه ډګر کې شپه سبا کړې ده.

پاريس کې د يوتوپيا ۵۶ سازمان همغږی کوونکی نيکولای پوسنر کډوال نيوز ته وايي: «امنيتي ځواکونو وويل چې کډوال د خيمو د نه ترلو په شرط هلته پاتېدلی شي«.

ډېری دغه مهاجر د افريقايي هېوادونو وګړي دي. نيکولای پوسنر وايي: «دلته شاوخوا ۵۰ ماشومان شته چې ۲۳ تنه يې له درېو کلونو څخه ټيټ عمرونه لري. په ډله کې يې يو درې مياشتنی ماشوم هم دی«.

دا هم ولولئ

پاريس: د سېن سيند له اوړدو څخه تر ۴۰۰ ډېر کم عمره کډوال ايستل شوي

»کډوال نه غواړي چې نور ځان پټ کړي«

د مېرمنو له ډلې ښځه ځینو یې قبولي ترلاسه کړې خو پاتې نورې بیا یا اسناد نه لري او یا یې دوسیې رد شوې دي. یادو کډوالو کې شاوخوا ۲۰ کم سنه او بې پرسته مهاجر هم دي چې دوی هم د سرپناه له نشتون سره مخ دي. دا هغه کسان دي چې د اصلي عمرونو په اړه یې شک شته او د استیناف محکمې پرېکړې ته انتظار کوي.

د یوتوپیا ۵۶ ویاند وایي: «هدف مو دا دی چې د دغو کډوالو د وضعیت په اړه خبرداری ورکړو.» یاد سازمان پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي دي» :دغه کډوال نور نه غواړي چې ځان پټ کړي، دوی ستړي شوي دي. موږ د قانون پر اساس د سرپناه غوښتنه لرو«.

په تېرو درېو میاشتو کې یاد کډوال په هغه مرکز کې اوسېدل چې د یوتوپیا ۵۶ سازمان له خوا د پاریس ۲۰مه ناحیه کې پرانیستل شوي و. خو دغه مرکز چې په یو وخت کې یې د ۱۸۰ کسانو د ځایېدو ظرفیت درلود د دوشنبې په سهار وتړل شو.

دا لومړی ځل نه دی چې سرپناه نه لرونکي کډوال د پاریس ښاروالۍ مخې ته راغونډېږي. د ۲۰۲۳ په اوړي کې شاوخوا ۲۰۰ کډوال د ښاروالۍ مخې ته راټول شوي وو چې له درېو اونیو انتظار وروسته بالاخره د پاریس قومندانۍ له خوا لومړی د هرکلي یوه بېړني مرکز او ورپسې د فرانسې نورو سیمو ته واستول شول .

دا هم ولولئ

<u>د پاریس په زړه کې د کم عمره کډوالو کمپ وتړل شو</u>

## د ایټالیا او البانیا ترمنځ تړون: د کډوالو د مرکزونو د جوړېدو کار پیل شوی

مهاجرنیوز





**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

له تېرو څو ورځو راهیسې د البانیا په ګجادېر کې د کډوالو د هرکلي مرکزونو د جوړېدو کار پیل شوی دی. تمه ده چې له مدیترانې څخه ژغورل شوي کډوال به یادو مراکزو ته واستول شي .

د البانیا په شمالي ګجادیر ښار کې د مارچ له ۲۹مې راهیسې د کډوالو د هرکلي د دوو مرکزونو د جوړېدو عملي کار پیل شوی دی. دا یوه پخوانۍ نظامي اډه ده چې له مدیترانې څخه ژغورل شوي پناه غوښتونکي به پکې وساتل شي.

دغه پخوانۍ اډه کې چې کاکاریک غره ته نږدې موقعیت لري دوه ودانۍ جوړېږي: لومړۍ ودانۍ هغو کسانو ته ځانګړې شوې چې د خپلو دوسیو ځواب ته انتظار کوي، خو په دویمه ودانۍ کې بیا اخراجېدونکي کډوال ساتل کېږي.

یاد مهاجر د ایټالیا، البانیا او اروپایي قوانینو له مخې د اروپایي ټولنې په ګډون د نړیوالو سازمانونو له حقوقي خدماتو څخه برخمن کېدلی شي.

د ګجادیر اوسېدونکي پولین لوکاج په خبره، د دغو مراکزونو دېوالونه به ۷ متره لوړوالی ولري ترڅو د کډوالو د وتلو مخه ونیسي .د روم او تېرانا د تړون له مخې، له مدیترانې څخه ژغورل شوي کډوال لومړی د نوم لیکنې لپاره شېنګجن بندر او ورپسې بیا ګجادیر ته استول کېږي.

دا هم ولولئ
<u>د ایټالیا مشرانو جرګې البانیا ته د کډوالو استولو قانون تصویب کړ</u>

په یو وخت کې د ۳۰۰۰ کډوالو د ځایېدو ظرفیت

د ایټالیا او روم دغه تړون په فبرورۍ کې د ایټالیا په پارلمان کې تاوده بحثونه راپارولي وو. دغه مرکزونه چې ټاکل شوې د ۲۰۲۴ د مې میاشتې په ۲۰مه پرانیستل شي د ایټالیا له خوا اداره کېږي او په یو وخت کې به د ۳۰۰۰ کډوالو د ځایېدو ظرفیت ولري.

په ۲۰۲۳ کې شاوخوا ۱۵۸ زرو کډوالو ایټالیا ته په رسېدو بریالي شوي وو. دغه هېواد په پام کې لري چې د دغو مراکزو په پرانیستلو سره د کډوالو د نویو څپو مخه ونیسي. د یادو مراکزو لګښت چې له ۶۵۰ څخه تر ۷۵۰ میلیونه یورو اټکل شوی په بشپړه توګه د ایټالیا له خوا ورکول کېږي. همدارنګه ایټالوي ځواکونه به د یادو مراکزو د امنیت د ټینګولو دنده هم په غاړه لري.

د البانیا امنیتي ځواکونه په بهر کې د امنیت د ټینګوالي او همداراز له یو مرکز څخه بل مرکز ته د کډوالو د انتقال مسولیت لري.

د ۲۰۲۳ د نومبر په ۶مه ایټالیا او البانیا <u>د کډوالو د هرکلي مراکزو د جوړولو تړون</u> لاسلیک کړ. هغه مهال د نړیوالې ژغورنې کمیټې دا تړون «غیر انساني» بللی وو او همدارنګه د بخښنې نړیوال سازمان د یوې «غیر عملي، ازار ورکوونکي او غیر قانوني طرحې» په اړه خبرداری ورکړی و .

دا هم ولولئ
<u>البانیا: د اساسي قانون محکمې له ایټالیا سره د کډوالو پر سر تړون تایید کړ</u>

## د کرېټا په سویل کې ۲۹ مهاجر له سمندره ژغورل شوي

مهاجرنیوز



**د یونان د کرېټا ټاپو په سویل کې د مدیترانې سمندر له اوبو څخه ۲۹ مهاجر ژغورل شوي دي. هغوی په خپله وړه کښتۍ کې سپاره ول.**

**د یوناني چارواکو په وینا د مدیترانې له سمندر څخه ۲۹ مهاجر په داسې حالت کې ژغورل شوي دي، چې په یوه ډېره زړه او له کاره لوېدلې کښتۍ کې سپاره ول. په وینا یې دغه مهاجر د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۳نېټه) وژغورل شول. دغه ژغورنه د مدیترانې په هغه لاره عملي شوې چې په دوامداره توګه له شمالي افریقا څخه د اروپا پر لور د مهاجرت لپاره استعمالیږي.**

**د یونان سمندري سرحد ساتونکو په خپله یوه اعلامیه کې ویلي دي چې د مهاجرو یاده کښتۍ د ګاودوس ټاپو څخه په ۴۳ کلومترۍ کې کشف شوې وه. ګاودوس یو کوچنی ټاپو دی چې د کرېټا و شمالي ساحل ته نژدې دی. ویل شوي چې یوې تجارتي کښتۍ د مهاجرو دغه کښتۍ په خراب حالت کې لیدلې وه او د مرستې لپاره یې بېړنی زنګ وهلی و.**

**د کښتۍ مهاجر د کرېټا و سویل ته لیږدول شوي دي. په دې هکله لا معلومات نه دي ورکول شوي چې د دغو مهاجرو روغتیایي وضعیت څنګه دی، او دا چې د هغوی هویت او د سفر پیلولو ځای کوم دی.**

**سږکال د کرېټا او ګاودوس په سویل کې واقع سمندري لارې په مرسته رسېدونکو مهاجرو شمېر په ښکاره توګه زیات شوی دی . اکثریت دغه مهاجر د لیبیا د توبروک بندر څخه خپل سفر پیلوي او و قاچاق وړونکو ته پر نفر تر ۵۰۰۰ ډالرو پورې پیسې ادا کوي.**

**د ملګرو ملتونو د اعمارو له مخې سږ کال و یونان ته په سمندري لارو تر ۱۲ زرو څخه زیات مهاجر رسېدلي دي. له یاد شمېر څخه ۹۶۰۰ یې د کرېټا شمالي برخي ته راغلي دي.**

د یکشنبې په ورځ د ګوادوس په سویل کې ۷۴ نور مهاجر هم له کښتۍ څخه ژغورل شوي ول. د ګاودوس ټاپو صرف ۲۹ مربع کلومتره مساحت لري او پکښې صرف یو څو لسونه انسانان ژوند کوي. له یادو ژغورل شوو کسانو څخه دوه وروسته په دې شک نیول شوي ول چې د قاچاقي ډلې غړیتوب لري.

## ۲۸ پناهجو در وان یخچال دار؛ حکم دستگیری قاچاقچیان در ایالت زاکسن آلمان

مهاجرنیوز



سارنوالی عمومی دریسدن آلمان حکم بازداشت دو قاچاقچی را صادر کرده است که گفته می شود مسئول حمل و نقل خطرناک مهاجران هستند. آنها ۲۸ پناهنده را با یک ون یخچال دارانتقال داده اند.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

براساس اعلام بازرسان به روز سه شنبه، یک مرد ۲۶ ساله و یک مرد ۵۲ ساله ترک هم اکنون در بازداشت به سر می برند. بر اساس اطلاعات دست داشته، پولیس فدرال روز شنبه ون یخچالدار را بررسی کرد و با باز شدن آن متوجه بوی شدید مواد مدفوع شد .

گفته شده است که مهاجران از کشورهای سوریه، عراق، مصر و ترکیه بودند که شامل آنها افراد زیر سن قانونی نیز بودند .

بر اساس اطلاعات، تعداد زیادی از مهاجران از بی آبی رنج می بردند. این مهاجران مجبور بودند در طول سفر خود از بوتل های پلاستیکی برای رفع حاجت شان استفاده می کردند. گفته شده است که این ون نه نورگیر داشت و نه پنجره برای داخل شدن هوا. فقط به صورت الکتریکی هوای داخل تصفیه می شد، اگرچه گفته می شود که دستگاه چندین بار در طول سفر از کار افتاده بود.

23 نفر از این افراد در آلمان درخواست پناهندگی داده اند و پنج نفر دیگر به جمهوری چک منتقل شدند.

## «زیر باران و ترپال»؛ بیش از یک صد مهاجر بی سرپناه میدان شهرداری پاریس را اشغال کردند

مهاجرنیوز



نزدیک به ۱۵۰ مهاجر بی سرپناه، که بیشتر شان زنان و مهاجران خردسال و بدون همراه هستند، شام روز دوشنبه ۱ اپریل، میدان مقابل شهرداری پاریس را اشغال کردند. این مهاجران که عمدتاً از کشورهای افریقایی هستند، از مقامات می‌خواهند که به مشکل سرپناه و وضعیت زندگی آنان رسیدگی کنند.

مهاجران یاد شده حوالی ساعت هفت و نیم شب وارد میدان مقابل شهرداری شدند و بدون خیمه «زیر باران و ترپال» در آنجا جابجا شدند.

به گفته نیکولا پوسنر، فعال اجتماعی و هماهنگ کننده سازمان یوتوپیا۵۶، نیروهای امنیتی که برای کنترول وضعیت به محل اعزام شده بودند نزدیک‌های ساعت ۱۱ شب منطقه را ترک کردند: «آنان گفتند که مهاجران می‌توانند در اینجا باقی بمانند با این شرط که خیمه نزنند.»

او گفت که بیشتر این مهاجران از کشورهای افریقایی هستند: «حدود ۵۰ کودک از جمله هفت کودک کمتر از یک سال و ۱۶ کودک کمتر از سه سال در میان این مهاجران حضور دارند. کوچکترین این کودکان، سه ماهه است.»

خانواده‌هایی که دیگر نمی‌خواهند خود را پنهان کنند

به گفته نیکولا پوسنر تعداد زیادی از مادران که برخی از آن‌ها، پناهندگان شناخته شده، یا رد شده و بدون مدرک هستند برای یافتن یک سرپناه در میدان حضور دارند. در کنار آنها، ۲۰ مهاجر زیر سن و بدون همراه نیز سرنوشت مشابهی دارند. این نوجوانان درخواست تجدید نظر برای تثبیت سن داده‌اند و در انتظار حکم دادگاه، هیچکسی مسئولیت آن ها را به عهده نمی‌گیرد.

در همین زمینه
پولیس یک کمپ مهاجران زیرسن در قلب پاریس را تخلیه کرد

نیکولا پوسنر در پیامی در حساب ایکس خود نوشته است که «هدف اصلی اشغال میدان شهرداری، مثل همیشه، این است تا وضعیت این افراد در معرض دید قرار گیرد. این خانواده‌ها به ستوه آمده‌اند و دیگر نمی‌خواهند پنهانی زندگی کنند. ما فقط خواهان رعایت قانون، یعنی تامین یک سرپناه برای آنان هستیم.»

«پاک سازی اجتماعی»

مهاجرانی که میدان شهرداری را اشغال کرده‌اند، طی سه ماه گذشته در یک محل پذیرایی در پاریس بیستم به سر می‌برند. این محل توسط سازمان یوتوپیا۵۶ ایجاد شده بود. اما صبح روز دوشنبه، بر اساس قرارداد قبلی با مالک ساختمان، مهاجران آنجا را ترک کردند.

این بار اول نیست که میدان شهرداری پاریس از سوی خانواده‌های بی سرپناه اشغال می‌شود. در تابستان سال گذشته حدود ۲۰۰ نفر در این محل جابجا شده بودند. حدود سه هفته بعد، این خانواده‌ها توسط فرمانداری پاریس نخست به سرپناه‌های فوری و سپس به مناطق دیگر انتقال یافتند.

در گرماگرم آمادگی‌ها برای برگزاری مراسم گشایش بازیهای المپیک ۲۰۲۴ در پاریس، شماری از سازمان‌های حمایت از مهاجران از «پاک سازی اجتماعی» در پایتخت فرانسه انتقاد می‌کنند.

در همین زمینه
بازی‌های المپیک در پاریس: مقامات می‌خواهند مهاجران و بی سرپناهان را از دید گردشگران پنهان کنند

در تازه ترین مورد در ۵ فبروری، این سازمان‌ها در خبرنامه‌ای هشدار دادند که احتمال دارد برگزاری بازیهای المپیک «طرد اجتماعی» در منطقه ایل دو فرانس را تشدید کند.

## پولیس فرانسه سه تن را به اتهام فروش اسناد جعلی دستگیر کرد

مهاجرنیوز




پولیس فرانسه هفته گذشته سه مرد را به اتهام فروش اسناد جعلی در اینترنت، در شمال و جنوب فرانسه دستگیر کرد. این افراد موفق شده بودد طی سه سال حدود ۳ میلیون سند اقامت و سایر اسناد اداری جعلی را به فروش برسانند.

به گفته منابع پولیس، دو تن از متهمان در نورماندی در شمال فرانسه و یک تن دیگر، در منطقه تولوز در جنوب بازداشت شدند.

این سه نفر که حدود ۲۰ سال عمر دارند، در سپتمبر ۲۰۲۱ یک سایت اینترنتی به زبان فرانسوی ساختند که در آن اسناد جعلی مانند کارت اقامت، لایسنس دریوری، ورق معاش، کارت بیمه و سایر اسناد اداری را به فروش می‌رساندند.

یک مقام اداره مبارزه با قاچاق مهاجران گفت که سایت اینترنتی این افراد در اگست ۲۰۲۲ از سوی این اداره ردیابی شد و تحت نظارت قرار گرفت.

اداره مبارزه با قاچاق مهاجران یک گروه تحقیق سایبری دارد که مبارزه علیه فروش اسناد اداری جعلی از اولویت‌های کاری آن محسوب می‌شود.

**در همین زمینه**
**<u>فرانسه: هشت عضو یک شبکه تولید اسناد جعلی برای مهاجران دستگیر شدند</u>**

**۵۴ هزار بازدید روزانه از سایت اسناد جعلی**

**مقامات برآورد کرده‌اند که سایت یاد شده روزانه ۵۴ هزار بازدید کننده داشته و در دوره فعالیت خود ۲،۷ میلیون سند جعلی تولید کرده و آن را به فروش رسانده است.**

**فابریس سونیه، معاون اداره مبارزه با قاچاق مهاجران گفت که مسئولان ایجاد سایت و اداره کنندگان آن، بیشتر «شبیه هکرهایی هستند که برای سرگرمی» چنین کاری می کرده‌اند. آنان «قاچاقبران مواد مخدر نه بلکه افراد فوق العاده ماهر هستند و بر تکنولوژی اینترنت تسلط کامل دارند.«**

**در همین زمینه**
**<u>نگرانی‌ها در مورد استفاده از تکنولوژی جدید و هوش مصنوعی در زمینه مهاجرت</u>**

**او افزود: «هدف اولیه آن‌ها به دست آوردن پول نبوده بلکه می‌خواستند مقامات را به چالش بکشانند. آنها گروه خاصی را در نظر نداشتند و برای هرگونه افراد فعالیت می‌کردند». با این حال متهمان در بدل پول، خدمات بیشتری را ارائه می‌کردند.**

**پولیس از نزد دستگیر شدگان حدود ۳۰ هزار یورو کریپتو مانی را به دست آورده است.**

**هر سه متهم اتهام خود را پذیرفته‌اند و قرار است در سپتمبر ۲۰۲۴ در دادگاه احضار گردند.**

## تصمیم تازه برای اخراج ۶۷هزار مهاجر افغان از پاکستان

طلوع نیوز

**وزارت مهاجران و عودت کننده‌ها، تصمیم پاکستان مبنی بر آغاز دور دوم اخراج مهاجران را یک جانبه خوانده و آن را به سود دو کشور نمی‌داند.**



برخی رسانه‌های پاکستانی گزارش داده‌اند که اسلام‌آباد تصمیم دارد حدود ۶۷ هزار مهاجر افغان را پس از عید فطر اخراج کند.

بر بنیاد گزارش‌ها، وزیر داخله ایالت سند به پولیس پاکستان دستور داده است تا برای اجرای مرحله دوم طرح بازگشت مهاجران افغان به کشور شان همکاری کند.

در همین حال برخی مهاجران افغان بازهم از بدرفتاری پولیس پاکستان و چالش‌های موجود در آن کشور شکایت کرده‌اند. به گفته‌ی آنان، شهروندان افغانستان نمی‌توانند آزادانه گشت‌وگذار کنند و با وجود داشتن اسناد قانونی هم، در معرض اخراج قرار دارند.

مهاجران افغان در پاکستان خواستار رفع این چالش‌ها از سوی حکومت سرپرست افغانستان و دولت پاکستان هستند.

عتیق‌الله مهاجر در پاکستان به طلوع‌نیوز گفت: «با وجود داشتن کارت‌های قانونی پی‌اوآر و آی‌سی‌سی، افغان‌های مهاجر یک مدت طولانی را در خوف و هراس سپری کردند. جای تاسف است که مهاجران افغان مقیم پاکستان یک کتله عظیم بزرگ اقتصاد ملک میزبان را تشکیل داده، اما هرازگاهی دچار پالیسی‌های دو جانبه شده‌اند«.

فیض‌الله یکی دیگر از مهاجران افغان در پاکستان می‌گوید: «از طرف رهنمای معاملات و از طرف پولیس پاکستان تحت تهدید و فشار قرار دارند. آن‌ها هر لحظه رنج می‌برند. رهنمای معاملات آن‌ها را تحت فشار قرار می‌دهد و مجبور به ترک خانه شان می‌سازد«.

وزارت مهاجران و عودت کننده‌ها، تصمیم پاکستان مبنی بر آغاز دور دوم اخراج مهاجران را یک جانبه خوانده و آن را به سود دو کشور نمی‌داند.

عبدالمطلب حقانی سخن‌گوی وزارت مهاجران و عودت کننده‌ها به طلوع‌نیوز گفت: «ما ان‌شاءالله آماده‌ایم که با آن‌ها همکاری کرده و آن‌ها را به مناطق شان برسانیم«.

فعالان عرصه حقوق مهاجران می‌گویند که با اجرای دور دوم اخراج مهاجران افغان از پاکستان، به چالش‌های مهاجران افزوده خواهد شد.

علی‌رضا کریمی فعال حقوق مهاجران گفت: «واقعا می‌تواند مشکلات زیادی را سد راه مهاجرین داشته باشد. ما از امارت اسلامی نیز می‌خواهیم هرچه زودتر با مقامات عالی رتبه پاکستان و با دفتر ملل متحد و بخش حقوق مهاجرت نشستی داشته باشند تا راه‌حل برای مشکلات آن‌ها داشته باشند«.

پیش از این نیز محسن رضا نقوی وزیر داخله پاکستان از آغاز مرحله دوم اخراج مهاجران افغان تا کم‌تر از یک ماه دیگر خبر داده بود.